امارت اسلامی افغانستان
اداره آمادگی مبارزه با حوادث
ریاست اطلاعات و نشرات

# هفته نامه
## مدیریت حوادث

شماره یکصد و پنجاه و سوم
۱۲ الی ۱۷ ثور ۱۴۰۵



## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ اداري لوی رئیس د کاري شریکانو لپاره د ۲۰۲۵-۲۰۲۹ کلونو د ستراتیژیک پلان د معرفي، شنني او تشریح په پروګرام کې ګډون او وینا وکړه

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ اداري لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي د یادي اداري د همکارو سازمانونو ، موسسواو شریکانو لپاره د ۲۰۲۵-۲۰۲۹ کلونو د ستراتیژیک پلان د معرفي، شنني او تشریح په پروګرام کې ګډون او وینا وکړه.


د متن دوام (۵) پاڼي

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ اداري لوی رئیس د DRC مؤسسې د پروګرام له مسؤلې سره وکتل

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ اداري لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي، په خپل کاري دفتر کې د DRC مؤسسې د پروګرام له مسؤلې، مېرمن هنا روز، د یادې مؤسسې له مرستیال، ضیاء مایار او د اړیکو له مسؤل، وفی‌الله وفا سره وکتل او خبرې یې وکړې.

د متن دوام (۵) پاڼي





## د پېښو چارو د انسجام معین په شتون کې د کابل ښار د شهدای صالحین په غره کې د هغو ډبرو چې د ښویېدو امکان یې شتون درلود سروې شوه

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ اداري د پېښو چارو د انسجام معین، محترم الحاج ملا عبدالولي څارنوال (حاجي وارث)، په داسې حال کې چې د خطر د مخنیوي او کمولو رئیس، محترم الحاج مولوي اختر محمد خادم، د کابل ولایت پېښو ته د رسېدنې آمر...

د متن دوام (۶) پاڼي



## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ اداري لوی رئیس د اروپا د ملکي خوندیتوب او بشردوستانه مرستو د عملیاتو اداري (ECHO) له سیمه‌ییز سلاکار سره وکتل

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ اداري لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي، د اروپا د ملکي خوندیتوب او بشردوستانه مرستو د عملیاتو اداري (ECHO) له سیمه‌ییز سلاکار ښاغلي ورنا سره...

د متن دوام (۷) پاڼي

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ اداري او د مرستو موسسې (IHH) ترمنځ د ګډو همکاريو دوه هوکړه ليکونه لاسليک شول



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ اداري لوی رئيس، محترم الحاج ملا نورالدين ترابي، په خپل کاري دفتر کې د مرستو موسسې (IHH) له رئيس محترم سليمان ايپلي سره وکتل او د ګډو همکاريو دوه هوکړه ليکونه يې ورسره لاسليک کړل.
په دې ناسته کې، محترم ترابي صاحب د يادې موسسې د فعاليتونو ستاينه وکړه او موږ په کونړ او ننګرهار دواړو ولايتونو کې مخکې لا سروې کړې دي که تاسو غواړئ چې د هغه سروی له مخې نغدي او جنسي کومکونه توزيع کړې او که غواړې چې خپله سروې وکړې هم زموږ ولايتي رئيسان ستاسو سره په ګډه سروی کوی بيا به توزيع وکړې.
په همدې حال کې، د مرستو موسسې (IHH) رئيس، ښاغلي سليمان ايپلي، د تېرو پروژو د پلي کولو په برخه کې د دې اداري له همکاريو مننه او قدرداني وکړه. نوموړي وويل، چې د دوی د پروژو بودجه يوازې د خلکو د خدمت لپاره ځانګړې شوې او هيڅ ډول اداري لګښتونه ترې نه ايستل کېږي.
د يادونې وړ ده، چې د دواړو لورو ترمنځ د لاسليک شوو هوکړه ليکونو له مخې، ټاکل شوې چې ياده موسسه به د کونړ ولايت په مرکز اسعدآباد کې ۴۹۶ کورنيو هرې يوې ته د ۶۶ ډالرو معادل افغانۍ ووېشي. همدارنګه د ننګرهار ولايت پع مرکز جلال‌آباد ښار کې به ۳۱۰ کورنيو هرې يوې ته د ۵۵ ډالرو په ارزښت خوراکي مرستې ووېشل شي، چې په دغو خوراکي مرستو کې به ۵ لېټره غوړي، ۴ کيلو لوبيا، ۵۰ کيلو اوړه، ۴ کيلو وريجې، ۲ کيلو بوره، ۱.۶ کيلو مالګه او ۸۰۰ ګرامه مکروني شامل وی.



## د ننګرهار ولايت په دره نور ولسوالۍ کې د اوبو رسونې د شبکې جوړولو کار بشپړ او کټې اخيستنې ته وسپارل شوه

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ اداري او د RAADA موسسې ترمنځ د لاسليک شوې هوکړه ليک له مخې، يادې موسسې د ننګرهار ولايت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رياست په همغږۍ او همکارۍ، د دره نور ولسوالۍ اړوند په لمتک، سرګلک، هزار بانده او خان محمد کليو کې د ۱۷،۰۰۰ يورو په لګښت د اوبو رسونې د شبکې د جوړولو د پروژې کار بشپړ کړ او رسمآ يې کټې اخيستنې ته وسپارله.
ياده پروژه د ولايتي کميټې تر څارنې لاندې پلې شوې ده او د دې شبکو په جوړېدو سره، د يادو کليو سلګونه کورنيو ته د پاکو اوبو د لاسرسي اسانتيا برابره شوې ده، چې دا به د روغتيايي ستونزو په کمښت او د ژوند د معيار په ښه والي کې مهم رول ولوبوي.
د پروژې د پرانيستلو پر مهال، ځايي اوسېدونکو د دې خدمت هرکلی وکړ او خوښي يې څرګنده کړه. هغوی دا پروژه د خپلو بنسټيزو اړتياوو د پوره کېدو لپاره يو مهم ګام وباله او له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ اداري او همکارې موسسې څخه يې مننه وکړه. مسؤلينو ټينګار وکړ چې دا ډول پرمختيايي او بشردوستانه پروژې به په راتلونکې کې هم دوام ومومي، څو د خلکو اساسي اړتياوې پوره او د ژوند شرايط يې لا ښه شي.



## د کابل ښار د پل آرتل په سیمه کې د پېښو چارو د انسجام معین په شتون کې د هغو ډبرو چې د ښویېدو امکان یې شتون درلود سروې وشوه

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ اداري د پېښو چارو د انسجام معین، محترم الحاج ملا عبدالولي ځارنوال (حاجي وارث)، د خطر د مخنیوي او کمولو رئیس، محترم الحاج مولوي اختر محمد خادم، د کابل ولایت پېښو ته د رسېدنې آمر، مولوي محمد حنیف همدرد، او یو تخنیکي، مسلکي او تجربه لرونکي ټیم په ملتیا چې په دې ټیم کې د څېړنې او مطالعاتو آمر، محمد مجتبی افضلي، د پېښو د تحلیل او ارزونې کارپوه انجنیر الله‌داد قرلق، د تخنیکي سروې متخصص انجنیر صفت‌الله احمد، د خطرونو د تحلیل او ارزونې کارپوه محمد لطیف پوپل، خبریال حسیب‌الله شیخاني او د عامه پوهاوي د ویډیو کلیپونو عمومي مدیر عطا محمد معمارزاده شامل وو، د کابل ښار د لومړۍ ناحیې د پل آرتل د غره سیمې ځلورم ګذر ته ولاړ او د هغه په شتون کې د هغو ډبرو چې د خلکو ژوند یې له خطر سره مخ کړی، سروې وشوه.

د پېښو چارو د انسجام محترم معین، د سیمې له خلکو سره په لیدنه کې وویل چې هغه ډبرې چې په کابل ښار او نورو ولایتونو کې د خلکو ژوند ګواښي، د ویجاړولو بهیر یې دوام لري او قراردادي شرکتونو ته یې لارښوونه وکړه چې د دغو ډبرو د ویجاړولو پر مهال دې هڅه وکړي چې د سیمې خلکو ته زیان ونه رسېږي. همدارنګه نوموړي خلک د دې ساحې له کارکوونکو سره همکارۍ ته وهڅول.

همدارنګه د خطر د مخنیوي او کمولو رئیس، محترم الحاج مولوي اختر محمد خادم د یادې پروژې په اړه معلومات وړاندې کړل او ویې ویل چې موږ نن د یو مسلکي، تخنیکي او باتجربه ټیم سره د پېښو چارو د انسجام معین په مشرۍ دې سیمې ته راغلي یو، تر څو د هغو ډبرو له خطره د سیمې د خوندي کولو بهیر پیل کړو چې د خلکو ژوند ګواښي. په هر ځای کې چې دا ډول خطرونه موجود وي، موږ چمتو یو چې له منځه یې یوسو. نوموړي زیاته کړه چې اوس مهال ۱۸ لویې ډبرې چې تولیز حجم یې ۱۹۸.۳۱۵۹ متره مکعب دی، سروې شوې دي او ډېر ژر به یې د ویجاړولو کار پیل شي.

په همدې حال کې د دې ګذر د خلکو استازو وویل چې څو کورونه د دغو ډبرو تر ګواښ لاندې دي او اوس د هغوی د سروې او خوندي کولو بهیر پیل کېږي. هغوی دا اقدام وستایه او له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ اداري څخه یې مننه او قدرداني وکړه.

د یادونې وړ ده چې د دې ډول ډبرو د ویجاړولو چارې د پلان له مخې او په منظم ډول د کابل ښار او د هېواد په نورو ولایتونو کې روانې دي. ګرانو هېوادوال خبر وي.


## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ‌اداري او د ORCD مؤسسې ترمنځ د (۱۹۹،۴۵۳) ډالرو په تولیز ارزښت د ګډو همکاریو هوکړه‌لیک لاسلیک شو



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ‌اداري لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي، په خپل کاري دفتر کې د ORCD مؤسسې له اجرائیوي رئیس، انجنیر صدیق الله صداقت سره وکتل او د ګډو همکاریو هوکړه‌لیک یې ورسره لاسلیک کړ.
په دې ناسته کې محترم ترابي صاحب د بشري مرستو ترڅنګ د وقایوي پروژو پر پلي کېدو ټینګار وکړ او همدارنګه یې د مؤسسې مسؤلین په چارو کې چټکتیا او شفافیت ته وهڅول. نوموړي ډاډ ورکړ چې دغه اداره به له ټولو مرستندویه مؤسسو او بنسټونو سره هر اړخیزه همکاري وکړي.
ورته مهال، د ORCD مؤسسې اجرائیوي رئیس، انجنیر صدیق الله صداقت د دې اداري له تېرو همکاریو څخه مننه وکړه او د روانې پروژې د تشریح ترڅنګ یې د پروژې پر وخت پلي کولو ته خپله ژمنتیا څرګنده کړه.
د یادونې وړ ده، چې د دواړو لورو ترمنځ د یو لک او نه نوي زره او څلور سوه او درې پنځوس (۱۹۹،۴۵۳) ډالرو په تولیز ارزښت د لاسلیک شوي هوکړه‌لیک له مخې ټاکل شوې، چې دغه به مؤسسه به په پنځو زونونو؛ کابل، کندهار، هرات، بلخ او ننګرهار کې د پېښو مدیریت، اقلیمي بدلونونو او د ځمکې لاندې د اوبو مدیریت په برخو کې د مسلکي کادرونو، پوهانو او قومي مشرانو په ګډون سیمینارونه ترسره کړي، څو د بحث او نظرونو د تبادلې له لارې د یادو برخو لپاره مناسبې لارې چارې ومونډل شي او د وقایوي او نورو پروژو د پلي کېدو په موخه یې د ملګرو ملتونو پراختیایي پروګرام (UNDP) ته، چې د دې پروژې تمویل کوونکی دی، وړاندې کړي.
همدارنګه، په پای کې به په کابل کې د بېلابېلو ادارو د استازو په ګډون یو ستر پروګرام هم ترسره شي.

## د فاریاب ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۵،۶۷۱ مستحقو کورنیو ته نغدي مرستې ووېشلې

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ اداري او د هنګرې دفتر ترمنځ د لاسلیک شوي هوکړه لیک له مخې، د فاریاب ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د دې ولایت په مرکز کې ۵۶۷۱ مستحقو کورنیو ته له سروې وروسته د دوه یم پړاو نغدي مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ‌کې هرې کورنۍ‌ته د مسؤلینو په شتون کې، ۲۹۰۰ افغانۍ ووېشل شوې، چې ټولټال د یاد شمېر کورنیو لپاره شپاړس میلیونه او څلورلکه او پنځه څلوېښت زره او نه سوه (۱۶،۴۴۵،۹۰۰) افغانۍ‌نغدي پیسې ځانګړې شوې وې.
په پای کې د مرستو ترلاسه کوونکو کورنیو له اړوندو مسؤلینو څخه مننه وکړه او په راتلونکې کې د ورته مرستو د دوام غوښتونکې شول.



## له پېښو سره د مبارزې د آمادګۍ اداري لوی رئیس د کاري شریکانو لپاره د ۲۰۲۵-۲۰۲۹ کلونو د ستراتیژیک پلان د معرفي، شننې او تشریح په پروګرام کې ګډون او وینا وکړه

په دې پروګرام کې، د ملګرو ملتونو د بشردوستانه مرستو د همغږۍ دفتر (UN– OCHA) رئیسې، مېرمن ایمي مارتین، د اکبر موسسې رئیس، نامیک حیدروف، د نړیوالو سازمانونو(IOM،WFP،UNICEF) استازو او د پېښو په چارو کې د نورو همکارو موسسو او سازمانونو استازو ګډون کړی و.
محترم الحاج ملا نورالدین ترابي په خپلو خبرو کې دا ستراتیژیک پلان د یوه قانون په څېر وباله او د دې پلان د بشپړ پلي کولو پر ژمنتیا یې ټینګار وکړ. هغه وویل چې دا پلان د پراخو هڅو په پایله کې چمتو شوی او د همکارو بنسټونو له همکارۍ او همغږۍ پرته یې اغېزمن پلي کېدل ستونزمن دي. نوموړي زیاته کړه، چې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ اداري د مرستندویه موسسو او بنسټونو لپاره ټولې اسانتیاوې برابرې کړې دي او د همکارۍ دروازې ورته پرانستې دي، څو د نږدې تعامل له لارې زیانمنو خلکو ته لا اغېزمن خدمات وړاندې شي.
په همدې حال کې، د اوچا د دفتر رئیسې، مېرمن ایمي مارتین، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ اداري څخه د پېښو د ښه مدیریت او له همکارو بنسټونو سره د نږدې همغږۍ له امله مننه وکړه او ویې ویل چې د پېښو مدیریت داسې بهیر دی چې د امارتي ادارو، نړیوالو بنسټونو، موسسو او نورو کاري شریکانو ترمنځ لازمې همغږۍ ته اړتیا لري.
همدارنګه، د اکبر موسسې رئیس، نامیک حیدروف وویل، چې زه له ۲۰۰ څخه د زیاتو غیر امارتي بنسټونو د استازي په توګه له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ اداري سره خپله ژمنتیا څرګندوم، چې د همکارو بنسټونو ترمنځ د همغږۍ، د معلوماتو تبادلې او تشریح او همدارنګه د امارتي ادارو او موسسو ترمنځ د خبرو اترو په برخه کې به همکاري وکړم.
په پای کې، د پروګرام د پراختیا او د پالیسیو د پرمختیا کارپوه، محترم استاد روکی عمرې، ستراتیژیک پلان ګډونوالو ته معرفي، تحلیل او تشریح کړ، او دا پروګرام د پوښتنو او ځوابونو او د ګډونوالو د نظرونو په وړاندې کولو سره پای ته ورسېد.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ اداري لوی رئیس د DRC مؤسسې د پروګرام له مسؤلې سره وکتل

محترم ترابي صاحب د مؤسسې پلاوي ته د ښه راغلاست ترڅنګ، د پېښو په مدیریت کې په ځانګړې ډول د بېړنیو حالاتو پر مهال د نوې ټکنالوژۍ پر کارولو ټینګار وکړ. هغه وویل، چې غواړې هغه ډرون کیمرې چې د طبیعي پېښو پر مهال تر خاورو لاندې د شهیدانو مړي او ژوندي انسانان کشف کولای شي، برابرې کړي.
له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ اداري لوی رئیس همدارنګه د طبیعي پېښو د خطرونو په کمولو کې د وقایوي پروژو پر رول ټینګار وکړ او له DRC مؤسسې څخه یې وغوښتل چې د استنادي دېوالونو، پلونو، پلچکونو د جوړولو او د طبیعي پېښو له امله د زیانمنو کسانو لپاره د خوراکي او غیر خوراکي توکو په برخه کې له دې اداري سره همکاري وکړي.
وروسته، د DRC مؤسسې د پروګرام مسؤلې مېرمن هنا روز، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ اداري له همکاریو څخه مننه وکړه او ویې ویل چې دا مؤسسه غواړي په ماینونو او ناچاوده توکو د ککړو سیمو د پاکولو لپاره له ډرونونو څخه کار واخلي، څو هم د وخت سپما وشي او هم د پېښو کچه راټیټه شي. هغې زیاته کړه چې له دې ټکنالوژۍ څخه به په بیړنیو حالاتو کې د ټپیانو د پېژندنې او ژغورنې لپاره هم کار واخیستل وشي.
مېرمن روز همدارنګه وویل چې دا مؤسسه به د وقایوي پروژو او بشري مرستو په برخه کې هم همکاري وکړي.
د دې لیدنې په پای کې، دواړو لورو د پېښو د مدیریت او بشري فعالیتونو د ښه والي په موخه د ډرونونو او سپوږمکۍ تجهیزاتو د برابرولو او کارولو په برخه کې پر ګډې همکارۍ هوکړه وکړه.

## د پېښو چارو د انسجام معین په شتون کې د کابل ښار د شهدای صالحین په غره کې د هغو ډبرو چې د ښویېدو امکان یې شتون درلود سروې شوه

مولوي محمد حنیف همدرد، او یو تخنیکي، مسلکي او تجربه لرونکي ټیم، چې د څېړنې او مطالعاتو آمر، محمد مجتبی افضلي، د پېښو د تحلیل او ارزونې کارپوه، انجنیر الله داد قرلق، د پېښو خطرونو د مخنیوي او د اغېزو کمولو کارپوه، انجنیر جلال‌الدین جمالي، د اطلاعاتو عمومي مدیر، عبدالسمیع ضربي، د کمرې عمومي مدیر روشان او کمره‌مین عبدالصمیم نوري پکې شامل وو، د محترم معین صاحب ملتیا یې کوله، د کابل ښار د لومړۍ ناحیې دویم گذر د شهدای صالحین د غره سیمې ته ولاړ او د هغه په شتون کې د هغو لویو ډبرو سروې وشوه، چې د خلکو ژوند یې له خطر سره مخ کړی و.
د پېښو چارو د انسجام معین د سیمې له خلکو او د یوې پېښې له امله د یو شهید او یو ټپي له کورنیو سره ولیدل، هغوی ته یې دعا وکړه او ویې ویل چې اسلامي امارت، په ځانگړې ډول له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ اداره د همدې اداري د لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي په مشرۍ، ځان د هغوی په غم کې شریک گڼي. نوموړي د هغو ډبرو د ویجاړولو پر بهیر هم خبرې وکړې چې په کابل ښار او نورو ولایتونو کې د خلکو ژوند گواښي، او قراردادي شرکتونو ته یې لارښوونه وکړه چې د ډبرو د ویجاړولو پر مهال دې هڅه وکړي، چې د سیمې خلکو ته زیان ونه رسېږي. همدارنگه له خلکو یې وغوښتل چې په دې سیمه کې له مسؤلو کارکوونکو سره همکاري وکړي.
همدارنگه، د خطر د مخنیوي او کمولو رئیس د یادې پروژې په اړه معلومات وړاندې کړل او ویې ویل چې نن ورځ له یو مسلکي، تخنیکي او تجربه لرونکي ټیم سره د پېښو چارو د انسجام معین په مشرۍ دې سیمې ته راغلي ترڅو د هغو ډبرو له خطر څخه د سیمې د خوندي کولو بهیر پیل کړي چې د خلکو ژوند گواښي. هغه زیاته کړه چې په هر ځای کې چې دا ډول خطرونه موجود وي، دوی چمتو دي چې له منځه یې یوسي. د هغه په وینا، اوس مهال ۱۱ ډبرې چې ټولیز حجم یې ۱۴۱.۶۴۷ متر مکعب ته رسېږي، سروې شوي دي او ژر به یې د له منځه وړلو چارې پیل شي.
د یادونې وړ ده، چې څو ورځې وړاندې په همدې سیمه کې پر یو هستوگنیز کور د یوې ډبرې د ښویېدو له امله یو ماشوم شهید، یو کس ټپي او کور په بشپړه توگه ویجاړ شوی و.
په همدې حال کې، د سیمې د خلکو استازو وویل چې څو کورونه د دې ډبرو تر گواښ لاندې وو، خو اوس د هغوی د خوندي کولو بهیر پیل شوی چې دوی یې ستاینه کوي.
د یادونې وړ ده، چې د دې ډول ډبرو د ویجاړولو چارې په پلان شوي او منظم ډول په کابل ښار او د هېواد په نورو ولایتونو کې دوام لري، گران هیوادوال دې خبر وي.

## له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ اداري اوونیزه اداري غونډه ترسره شوه




د وزیرانو شورا د ۱۴۴۳/۵/۱۶ نېټې د (۱۵) گڼې مصوبې د ۱ مادې پر بنسټ، له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ اداري اوونیزه اداري غونډه د دې اداري د لوی رئیس محترم الحاج ملا نورالدین ترابي په مشرۍ او د مرکزي رئیسانو په گډون د دې اداري په انگړ کې ترسره شوه.
غونډه د قران کریم د څو مبارکو آیتونو په تلاوت سره پیل شوه.
وروسته د اجنډا په هره موضوع په جلا جلا ډول هر اړخیزه بحث وشو او د غونډې د گډونوالو نظرونه په وار سره راټول شول.
د غونډې په پای کې د اجنډا پر ټولو موضاعوتو باندې لازم تصمیمونه ونیول سول.

## له پېښو سره د مبارزې د آمادګۍ اداري لوی رئیس د اروپا د ملکي خوندیتوب او بشردوستانه مرستو د عملیاتو اداري (ECHO) له سیمه‌ییز سلاکار سره وکتل

د پېښو پر وړاندې د چمتووالي په برخه کې وکتل او د دې اداري د ستراتیژیک پلان سره سم یې د دوه اړخیزو همکاریو پر څرنګوالي خبرې وکړې.
په دې ناسته کې، محترم ترابي صاحب وویل، چې زموږ ټول کارونه له مخکې ترتیب شویو پلانونو او قوانینو سره سم پر مخ ځي او موږ خلکو ته د رسېدنې او مرستې لپاره خپل لومړیتوبونه لرو چې د اړتیا په صورت کې به یې له تاسو سره هم شریک کړو. نوموړي همدارنګه وویل چې موږ ټولو مرستندویه بنسټونو ته لازمي اسانتیاوې برابرې کړې دي او له تمویل کوونکو څخه هم غواړو چې خپلې پروژې د خلکو د اړتیاوو سره سمې تنظیم کړي او د طرحې پر مهال حتماً له اړوندو داخلي سکتورونو سره مشوره وکړي، څو بودجه په اغېزمن او مناسب ډول ولګول شي.
د اداري لوی رئیس د رضاکارانو د جذبولو بهیر ته هم اشاره وکړه او د وقایوي پروژو تر څنګ یې د هغوی ملاتړ مهم وباله.
په همدې حال کې، د ECHO سیمه‌ییز سلاکار د دې لیدنې د زمینې برابرېدو څخه مننه وکړه او ویې ویل چې ستاسو همکارۍ له مرستندویه مؤسسو سره ښکاره ده او موږ غواړو ستاسو د ستراتیژیک پلان سره سم همکاري وکړو، څو وکولای شو د خطرونو کچه راکمه کړو.
هغه همدارنګه وویل چې موږ پر هغو مؤسسو چې پروژې یې تمویلوو، خپلې څارنې ته دوام ورکوو او هڅه کوو چې د پېښو پر وړاندې چمتووالی بنسټیز کړو.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بادغیس برای ۱۵۶ خانواده سیلاب‌زده کمک‌های غذایی توزیع کرد




ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بادغیس در مرکز آن ولایت و ولسوالی‌های دره‌بوم، مقر و آب‌کمری، در پی سیلاب‌های اخیر، پس از سروی، برای ۱۵۶ خانواده آسیب‌دیده کمک‌های غذایی توزیع نمود.
در این روند، با حضور مسئولین، به هر خانواده دو بوری گندم ۵۰ کیلویی توزیع گردید و برای ۹۷ خانواده، علاوه بر کمک‌های یادشده، به هر خانواده یک کیلو چای سیاه نیز توزیع شد.
قابل ذکر است که خانواده‌های مستفیدشده از کمک‌ها، از دریافت این مساعدت‌ها ابراز خوشی نموده و از مسئولین این ریاست تشکر کردند.

## د پکتیا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د سېلابي لارې د پاکولو چارې پیل کړې

د پکتیا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یاد ولایت له محترم مقام سره په همغږۍ او د سیمه ییزو اوسېدونکو په ملاتړ د دې ولایت په زرمت ولسوالۍ کې د یوې ۳۵ کیلو متره سلابي لارې د پاکولو چارې له سروې وروسته رسماً پیل کړې.
د یادې سېلابي لارې په پاکولو سره به ګڼ شمېر کرنیزې ځمکې، هستوګنیز کورونه او نور عام المنفعه تأسیسات د سېلابونو له خطرونو څخه خوندي شي.
د دې لارې د پاکولو په پیل مراسمو کې سیمه ییزو اوسېدونکو له اړوندو مسؤلینو څخه د دې اقدام په پار مننه وکړه.



# د کابل ښار د پل آرتل په سیمه کې د ډېرو چارو د انسجام معین په شتون کې د هغو ډبرو چې د ښوییدو امکان یې شتون درلود، سروې وشوه

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ادارې د پېښو چارو د انسجام معین، محترم الحاج ملا عبدالولي څارنوال (حاجي وارث)، د خطر د مخنیوي او کمولو رئیس، محترم حاجي اختر محمد خادم، د کابل ولایت پېښو ته د رسېدنې آمر، مولوي محمد حنیف همدرد او یو تخنیکي، مسلکي او تجربه لرونکي ټیم په ملتیا چې په دی ټیم کې د څېړنې او مطالعاتو آمر، محمد مجتبی افضلي، د پېښو د تحلیل او ارزونې کارپوه انجنیر الله داد قرلق، د پېښو د خطرونو او اغېزو د مخنیوي او کمولو کارپوه، انجنیر جلال الدین جمالي، خبریال، حسیب‌الله شیخاني، روښان، د کمرې عمومي مدیر او کمره مین، عبدالصمیم نوري شامل وو، د کابل ښار د لومړۍ ناحیې د پل آرتل د غره سیمې ځلورم ګذر ته ولاړ او د هغه په شتون کې د هغو ډبرو چې د خلکو ژوند یې له خطر سره مخ کړی، سروې وشوه.

د پېښو چارو د انسجام محترم معین، د سیمې له خلکو سره په لیدنه کې وویل چې هغه ډبرې چې په کابل ښار او نورو ولایتونو کې د خلکو ژوند ګواښي، د ویجاړولو بهیر یې دوام لري او قراردادي شرکتونو ته یې لارښوونه وکړه چې د دغو ډبرو د ویجاړولو پر مهال دې هڅه وکړي چې د سیمې خلکو ته زیان ونه رسېږي. همدارنګه نوموړي خلک د دې ساحې له کارکوونکو سره همکارۍ ته وهڅول.

همدارنګه د خطر د مخنیوي او کمولو رئیس، محترم حاجي اختر محمد خادم د یادې پروژې په اړه معلومات ورانديې کړل او ویې ویل چې موږ نن د یو مسلکي، تخنیکي او باتجربه ټیم سره د پېښو چارو د انسجام معین په مشرۍ دې سیمې ته راغلي یو، تر څو د هغو ډبرو له خطر څخه د سیمې د خوندي کولو بهیر پیل کړو چې د خلکو ژوند ګواښي. په هر ځای کې چې دا ډول خطرونه موجود وي، موږ چمتو یو چې له منځه یې یوسو. نوموړي زیاته کړه چې اوس مهال ۱۷ لویې ډبرې چې تولیز حجم یې ۲۰۰.۲۴۳ متره مکعب دی، سروې شوې دي او ډېر ژر به یې د ویجاړولو کار پیل شي.

په همدې حال کې د دې ګذر د خلکو استازو وویل چې څو کورونه د دغو ډبرو تر ګواښ لاندې دي او اوس د هغوی د سروې او خوندي کولو بهیر پیل کېږي. هغوی د دې اقدام ستاینه وکړه او له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ادارې څخه یې مننه او قدرداني وکړه.

د یادونې وړ ده چې د دې ډول ډبرو د ویجاړولو چارې د پلان له مخې او په منظم ډول د کابل ښار او د هېواد په نورو ولایتونو کې رواني دي. ګران هېوادوال دې خبر وي.



## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ اداري او د کډوالۍ نړيوال سازمان (IOM) په همغږۍ د فيډبک ميکانيزم يو ورځنۍ روزنيز پروګرام ترسره شو



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ اداري او د کډوالۍ نړيوال سازمان (IOM) په همکارۍ د فيډبک ميکانيزم تر سرليک لاندې يو ورځنۍ روزنيز پروګرام ترسره شو.

د دې پروګرام موخه د پېښو د مديريت په بهير کې د نظرياتو (فيډبک) راټولولو، تحليل او اغېزمنې استفادې په برخه کې د ظرفيتونو لوړول او زيانمنو شويو کسانو ته د خدماتو د کيفيت ښه والی دی.

پروګرام د قرآن کريم د څو مبارکو آيتونو په تلاوت سره پيل شو.


وروسته، د «فيډبک ميکانيزم» د پروژې مسؤل ښاغلي اشرف‌السحار د دې معلوماتي سيستم د اهميت، موخو او د پلي کولو د څرنګوالي په اړه هر اړخيز معلومات وړاندې کړل او د همغږۍ او اغېزمن ځواب ويلو په ښه کولو کې يې پر رول ټينګار وکړ.

د پروګرام په پای کې، ګډونوالو د فيډبک سيستم د لا ښه پلي کېدو او په عملي چارو کې د هغې د کارونې په اړه بحث او د نظرونو تبادله وکړه.

## د فارياب ولايت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رياست ۱۸۰۰ مستحقو کورنيو ته خوراکي مرستې وويشلې

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ اداري او د OCHR دفتر ترمنځ د لاسليک شوي هوکړې ليک له مخې، د فارياب ولايت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رياست د ياد دفتر په ملاتړ، د دې ولايت په قيصار، المار او قرمقول ولسواليو کې ۱۸۰۰ مستحقو کورنيو ته له سروې وروسته خوراکي مرستې وويشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلينو په شتون کې، يوه بوری ۵۰ کيلويي اوړه، ۵ ليتره غوړي، ۲ کيلو لوبيا، ۲ کيلو نخود او نيم کيلو مالګه وويشل شوه.




## د کندهار ولايت په لوړ ميوند ولسوالۍ کې ناچاوده توکي کشف او خنثی شول



د کندهار ولايت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رياست د همغږۍ له مخې، د HALO Trust ماين پاکۍ موسسې د MDU-RMC-۰۲ ټيم د کندهار ولايت د لوړ ميوند ولسوالۍ د آسوده کلي په سيمه کې د روسانو د وخت يوه کړۍ TC-۶ ماين کشف او په خوندي توګه خنثی کړ.

د ماين پاکۍ دا عمليات د تخنيکي معيارونو په بشپړ رعايت سره ترسره شول، چې له امله يې د سيمې اوسېدونکي له احتمالي خطرونو څخه وژغورل شول.

د کندهار ولايت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رياست، له خلکو وغوښتل چې د هر ډول ماينونو او شکمنو توکو د ليدو په صورت کې دې له اړونده مسؤلينو سره اړيکه ونيسي، څو د هغوی د ځان او مال د ساتنې لپاره اړين اقدامات ترسره شي.

## د بادغیس ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲۹۳ زیانمنو کورنیو ته غیر خوراکي مرستې ووېشلې




د بادغیس ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د کډوالۍ نړیوال سازمان (IOM) او اکشن ایډ مؤسسې په مالي ملاتړ، د یاد ولایت په مرکز او بالامرغاب، دره بوم، مقر او سنګ آتش ولسوالیو کې د وروستیو سېلابونو له امله ۲۹۳ زیانمنو کورنیو ته له سروې وروسته غیر خوراکي مرستې ووېشلې.

په دې لړ کې د مسؤلینو په شتون کې د کډوالۍ نړیوال سازمان (IOM)۲۹۳ کورنیو هرې یوې ته ۳ تختې کمپلې، یو د جامو ژمنۍ کیټ، بوټ او خولۍ، یو د پخلنځي د لوښو کیټ، یوه تخته پلاستیکي فرش او د اوبو د زخیره کولو په موخه دوه پلاستیکي بشکې او د اکشن ایډ مؤسسې له لوري د یونسیف دفتر په مالي ملاتړ ۸۳ کورنیو هرې یوې ته یو روغتیایي کیټ چې ۱۷ قلمه توکو پکې شتون درلود ووېشل شو.

## د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۹۹ زیانمنو کورنیو ته خوراکي اوغیر خوراکي مرستې ووېشلې




د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د کډوالۍ نړیوال سازمان IOM په مالي ملاتړ او د دې ولایت له محترم مقام سره په همغږۍ د دې ولایت د وروستیو ورښتونو او سېلابونو له امله په خاکجبار ولسوالۍ کې ۸۸ او بګرامۍ ولسوالۍ کې ۱۱۱ زیانمنو کورنیو ته له سروې وروسته خوراکي او غیر خوراکي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له لوري ۸۸ کورنیو هرې کورنۍ ته، یو باب خیمه، یوه بوری ۵۰ کیلویي غنم، یو کارتن روغتیایي کیټ چې ۱۶ قلمه توکي پکې شتون لري، ۳ عدده څراغونه، ۱۰۰ پاکټه د اوبو تصفیه کولو ګولۍ، ۳ عدده پلاستیکي صندقونه او د کډوالۍ نړیوال سازمان IOM لخوا ۱۱۱ کورنیو هرې یوې ته ۲ عدده روغتیایي کېټونه چې ۲۳ قلمه توکي پکې شتون لري ووېشل شول.

د یاد ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست مسؤلین هڅه کوي چې زیانمنو کورنیو ته پروخت رسېدنه وکړي او له هغوی سره پر وخت مرستې ترسره کړي.

## د سمنګان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یوې سېلابي لارې د پاکولو چارې بشپړې کړې



د سمنګان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یاد ولایت د حضرت سلطان ولسوالۍ په قفلانۍ کلي کې یوه سېلابي لار، چې د وروستیو سېلابونو له امله ډکه شوې وه د پاکولو چارې بشپړې کړې.

د یادې سېلابي لارې د پاکولو چارې د ۴۰۰ متره اوږدوالي او ۱۰ متره سور په درلودلو سره پای ته ورسېدې.

د یادونې وړ ده، چې د دې لارې په پاکولو سره له ۲۰۰ څخه زیات هستوګنیز کورونه د سېلابونو له احتمالي خطرونو څخه خوندي شول.

## د کابل ښار په لومړۍ ناحیه کې د هغو ډبرو چې د ښوییدو احتمال یې شتون درلود سروې وشوه

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ اداري د پېښو چارو د انسجام معین، محترم الحاج ملا عبدالولي څارنوال (حاجي وارث) په مشرۍ د خطر د مخنیوي او کمولو رئیس، محترم حاجي اختر محمد خادم، د کابل ولایت پېښو ته د رسېدنې آمر، مولوي محمد حنیف همدرد او یو تخنیکي، مسلکي او تجربه لرونکي ټیم، چې په دې ټیم کې د څېړنې او مطالعاتو آمر، محمد مجتبی افضلي، د پېښو د تحلیل او ارزونې کارپوه انجنیر الله داد قرلق، د پېښو د خطرونو او اغېزو د مخنیوي او کمولو کارپوه، انجنیر جلال الدین جمالي، خبریال، حسیب الله شیخاني او د عامه پوهاوي د ویډیو کلیپونو عمومي مدیر، عطامحمد معمارزاده شامل وو، د کابل ښار د لومړۍ ناحیې په څلورم ګذر کې د هغو ډبرو سروې وشوه، چې د سیمې د اوسېدونکو ژوند یې له ګواښ سره مخ کړی و.

د پېښو چارو د انسجام محترم معین، د سیمې له خلکو سره په لیدنه کې وویل چې هغه ډبرې چې په کابل ښار او نورو ولایتونو کې د خلکو ژوند ګواښي، د ویجاړولو بهیر یې دوام لري او قراردادي شرکتونو ته یې لارښوونه وکړه چې د دغو ډبرو د ویجاړولو پر مهال دې هڅه وکړي چې د سیمې خلکو ته زیان ونه رسېږي. همدارنګه نومورړي خلک د دې ساحې له کارکوونکو سره همکارۍ ته وهڅول.

د خطر د مخنیوي او کمولو رئیس د یادې پروژې په اړه معلومات وړاندې کړل او ویې ویل، نن موږ له یوه مسلکي، تخنیکي او باتجربه ټیم سره دې سیمې ته راغلي یو، څو د غو ډبرو له خطر څخه چې د خلکو ژوند ګواښي د سیمې د خوندي کولو بهیر پیل کړو. په هره سیمه کې چې دا ډول خطرونه موجود وي، موږ د هغو د له منځه وړلو او رفع کولو لپاره بشپړ چمتووالی لرو. نومورړي زیاته کړه، چې اوس مهال ۱۱ ډبرې د ۶۴,۹۳۴ متر مکعب په ټولیز حجم سروې شوې دي او ډېر ژر به یې د ویجاړولو عملي کار پیل شي. ورته مهال، د یاد ګذر د خلکو استازو وویل چې کڼ شمېر کورونه د دغو ډبرو له ګواښ سره مخ وو، خو اوس د سیمې د خوندي کولو بهیر پیل شوی دی او دوی له دې اقدام څخه هرکلی او قدرداني کوي.

د یادونې وړ ده، چې د دې ډول ډبرو د ویجاړولو چارې د یوه منظم، پلان شوي او دوامدار پروګرام له مخې په کابل ښار او د هېواد په نورو ولایتونو کې هم روانې دي. ګران هېوادوال دې خبر وي.



## د خوست ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱،۶۰۷ داخلي بېځایه شویو کورنیو ته نغدي او غیر خوراکي مرستې وویشلې



د خوست ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د GAALO او CHA مؤسسو په مالي ملاتړ، د یاد ولایت د ځاځي میدان ولسوالۍ په بېلابېلو سیمو کې د وروستیو جګړو له امله ۱۶۰۷ داخلي بېځایه شویو کورنیو ته له سروې وروسته نغدي او غیر خوراکي مرستې وېشلې.

په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې، د GAALO مؤسسې له لوري هرې کورنۍ ته ۵۸۰۰ افغانۍ نغدي پیسې ووېشل شوې، چې ټولټال د یاد شمېر کورنیو لپاره نه میلیونه او درې لکه او شل زره او شپږ سوه (۹،۳۲۰،۶۰۰) افغانۍ نغدي پیسې ځانګړې شوې وې. همدارنګه د CHA مؤسسې لخوا ۶۷ کورنیو هرې یوې ته چې د بیرنیو سرپناه وو له نه شتون سره مخ وې خېمې او سولرې څراغونه ووېشل شول.

د یاد ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست مسؤلین ټینګار کوي، چې زیانمنو کورنیو ته د مرستو رسولو لړۍ په عادلانه توګه دوام لري.

په پای کې، د مرستو ترلاسه کوونکو کورنیو د یادو مرستو د ترلاسه کولو له امله خوښي څرګنده کړه او له اړوندو بنسټونو څخه یې د نورو مرستو د دوام غوښتنه وکړه.

## د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۷۲۴ زیانمنو کورنیو او ۳۵ تنه کاریګرو ته نغدي او غیر خوراکي مرستې ووېشلې



د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د ماشوم ساتنې، RRAA او اکشن اېډ مؤسسو په مالي ملاتړ او د کډوالۍ نړیوال سازمان (IOM) په مالي او تخنیکي همکارۍ د ورستیو ورښتونو او سېلابونو له امله د یاد ولایت د جلال آباد ښار په امید آباد سیمه کې ۸۰، په اچین او سپین غر ولسوالیو کې ۳۸۷، شینوارو ولسوالۍ کې ۲۵۷ زیانمنو کورنیو ته او په مومندرې ولسوالۍ کې ۳۵ تنه کاریګرو ته د کار کولو په بدل کې له سروې وروسته نغدي او غیر خوراکي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې، د کډوالۍ نړیوال سازمان (IOM) له لوري ۳۸۷ کورنیو هرې یوې ته یو د پخلنځي کیټ چې ۱۲ قلمه توکي پکې شتون درلود، یو عدد جارو، یوه تخته پلاستیکي فرش، ۳ تختې کمپلې، یو عدد څراغ او له یاد شمېر کورنیو څخه ۲۸ کورنیو ته چې سختې زیانمنې شوې وې هرې کورنۍ ته یو باب خېمه، د RRAA مؤسسې لخوا ۲۵۷ کورنیو هرې یوې ته ۱۰۹۰۰ افغانۍ نغدي پیسې، یو د روغتیا ساتنې کیټ چې ۴۴ قلمه توکو پکې شتون درلود، د اکشن اېډ مؤسسې له لوري ۸۰ کورنیو هرې کورنۍ ته ۱۰۹۲۰ افغانۍ نغدي پیسې او د ماشوم ساتنې مؤسسې له لوري ۳۵ تنه کاریګرو هره یوه ته ۵۹۲۵ افغانۍ نغدي پیسې ووېشل شوې، چې ټولټال د زیانمنو شویو کورنیو او کارګرو لپاره درې میلیونه او اته لکه او دوه اتیا زره او دوه سوه او اتیا (۳،۸۸۲،۲۸۰) افغانۍ نغدي پیسې ځانګړې شوې وې.

د یادونې وړ ده، چې د مرستو ترلاسه کوونکو کورنیو د مرستو د ترلاسه کولو په پار له یادو بنسټونو او د دې ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له مسؤلینو څخه مننه وکړه او خوښي یې څرګنده کړه.



## د پکتیا ولایت په مرکز کې د خوست پل سیمې د استنادي دېوال د جوړولو او د ملک خیلو کلي د کانال د پاکولو پاتې چارې بیرته پیل شوې

د پکتیا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د کډوالۍ نړیوال سازمان IOM په ملاتړ، د یاد ولایت په مرکز کې د خوست پل سیمې د استنادي دیوال د جوړولو او د ملک خېلو کلي د کانال د پاکولو پروژې چارې، چې د ځینو تخنیکي ستونزو له امله بندې شوې وې بیرته پیل شوې.
د یاد ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ محترم رئیس، له اړوندو مسؤنو څخه غوښتي چې د دې پروژو چارې دې په ښه کیفیت او اغېزمن ډول بشپړې شي.

## د میدان وردګ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲۱۰ زیانمنو کورنیو سره د خوراکي او غیر خوراکي مرستې ووېشلې

د میدان وردګ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د دې ولایت په چک او دایمیرداد ولسوالیو کې د وروسیتو ورښتونو او سیلابونو له امله ۲۱۰ زیانمنو کورنیو ته له سروې وروسته د خوراکی او غیری خوراکی توکو مرستې ووېشلی.
په دې لړ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، ۱ بورۍ ۵۰ کیلویي غنم، ۱ عدد د یونیسف مؤسسې د روغتیا ساتنې کیټ، ۱ عدد صندوق او ۱ څراغ ووېشل شو.
د مرستې د وېشلو پر وخت، د یاد ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست محترم رئیس، مولوی احمد شاه ذهین له زیانمنو کورنیو سره خواخوږي څرګنده کړه او له نورو زیانمنو کورنیو سره یې د مرستو د کولو ژمنه وکړه.



## د ارزګان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له لوري د دهراود ولسوالۍ د تنګي لارې د جوړولو کارونه په چټکۍ سره روان دي



د ارزګان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د دهراود ولسوالۍ د تنګي لارې د جوړولو بیړني کارونه په تېزۍ سره پیل کړي دي.
دغه لار چې جوړه سي، د خلکو د تګ راتګ لپاره به آساني راولي، چې د دهراود د ځینو کلیو خلګ چې ترینکوټ ته به راتلل په موټر کې به یې ۲ ساعته مزل ترسره کوو او ۱۰۰ کیلومتر لاره سفر به یې کووو، اوس چې دا لار جوړه سي، د سیمې خلګ به یوه ساعت ته دا لاره رالنډه کړي او یوازې ۵۰ کیلومتره لار به پرې کوي چې د لارې تر جوړیدو وروسته به هم د تیلو لګښت کم وي او هم به د وخت سپما کیږي.

## د زابل ولایت په سیوري ولسوالۍ کې یو عدد د ټانګ ضد ماین کشف او خنثی شو



د زابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د ډافا ماین پاکۍ مؤسسې له تخنیکي ټیم سره په همغږۍ، د دې ولایت د سیوري ولسوالۍ په حوثیانو کلي کې له تېرو جګړو څخه پاتې شوی یو عدد د ټانګ ضد ۲،۴/TC ماین کشف او په خوندي ډول خنثی کړ.
د یادونې وړ ده، چې د یاد ولایت په کچه د ماین پاکۍ فعالیتونه له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست او د ډافا ماین پاکۍ مؤسسې ترمنځ په همغږۍ دوام لري.
له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له خلکو وغوښتل، چې د هر ډول ناچاوده او مشکوکو توکو د لیدو په صورت کې دې له اړونده مسؤلینو سره اړیکه ونیسي، څو د خلکو د ځان او مال د خوندیتوب لپاره اړین اقدامات ترسره شي.

## د پنجشیر ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۹۸ کورنیو ته خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې

د پنجشیر ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د یاد ولایت په شتل ولسوالۍ او مرکز کې ۹۸ مستحقو کورنیو او د عام المنفعه پروژو کارګرانو ته له سروې وروسته خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، یوه بوړۍ غنم او ۱ روغتیایي کېټ ووېشل شول.




## د بغلان ولایت په پلحصار ولسوالۍ کې د کرنیز کانال د پاکولو چارې بشپړې شوې




د بغلان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یاد ولایت د پلحصار ولسوالۍ په چمن، شش کلاه، وفا خیل او قلعه مرزا محمد در کلیو کې کرنیز کانال چې د وروستیو سېلابونو د چکړو له امله ډک شوی وو پاک کړ او د کتې اخیستنې لپاره یې وسپاره.
دا اقدام د سېلابونو د زیاتو خطرونو د مخنیوي په موخه د سیمه ییزو اوسېدونکو په غوښتنه د عراده اسکواتر په واسطه د دو ورځو په موده کې د بغلان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د ۳۲۰۰۰ بودیجې په ارزښت ترسره شو.
د یاد ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ټینګار کوي، چې د طبیعي پېښو له امله د ښاریانو ستونزو ته رسېدنه او د هغوی ملاتړ دوام لري.

## د پروان ولایت په سیاګرد ولسوالۍ کې یو عدد د پرسونل ضد ماین کشف او خنثی شو



د پروان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د همغږۍ پر بنسټ، د هلوټرسټ ماین پاکۍ موسسې QR EORE ۰۵ تخنیکي ټیم، د دې ولایت په سیاګرد ولسوالۍ کې له تېرو جګړو پاتې شوی یو عدد د پرسونل ضد ماین کشف او په خوندي ډول خنثی کړ.
د یادونې وړ ده، چې د یاد ولایت په کچه د ماین پاکۍ فعالیتونه له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست او د هلو ترسټ ماین پاکۍ موسسې ترمنځ په همغږۍ دوام لري.
له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له خلکو وغوښتل، چې د هر ډول ناچاوده او شکمنو توکو د لیدو په صورت کې له اړونده مسؤلینو سره اړیکه ونیسي، څو د خلکو د ځان او مال د خوندیتوب لپاره اړین اقدامات ترسره شي.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کنر برای ۵۲۲ خانواده بی‌جاشده داخلی کمک‌های غیرخوراکی توزیع کرد




ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کنر، با حمایت مؤسسه هماهنگی کمک‌های بشری (OCHR)، در ولسوالی ناړی آن ولایت، برای ۵۲۲ خانواده بی‌جاشده به دلیل جنگهای اخیر، پس از سروی، کمک‌های غیرخوراکی توزیع نمود.
در این روند، با حضور مسئولین، به هر خانواده یک بسته صحی توزیع گردید.

## عامه پیغامونه:

۹. موټر په احتیاط چلوئ چې هدف ته ژر ورسیږی چټک تګ مه کوئ چې د کومې پېښې د رامنځته کېدو له امله دربانديې ناوخته نشی
۱۰. ماینونو او ناچاوده توکو ته لاس مه وروړئ که چیرې مو کوم ماین یا ناچاوده توکي ولیدل د ماین پاکي مسؤلینو ته ژر تر ژره خبر ورکړئ
۱۱. طبیعي پېښو ته چمتووالي نیول د ژوند ژغورنې یو اړین اصل دی